ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا». "د ایمان خوند هغه چا څکلی دی چې په دې راضي وي چې الله تعالی یې رب، اسلام یې دین او محمد صلی الله علیه وسلم یې رسول دی

له عباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه څخه روایت دی چې ما له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې فرمایل یې: «ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا». "د ایمان خوند هغه چا څکلی دی چې په دې راضي وي چې الله تعالی یې رب، اسلام یې دین او محمد صلی الله علیه وسلم یې رسول دی".

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې هغه مؤمن چې په خپل ایمان کې رښتیني وي او زړه یې پرې ډاډمن وي نو خامخا به په خپل زړه کې ډاډ، پراخوالی، خوښي، خوږوالی او الله تعالی ته د نږدې کېدو لذت ومومي که چېرته په دریو شیانو راضي شو: لومړی: له الله تعالی څخه د څښتن په توګه داسې راضي وي چې زړه یې په هغه څه آرام وي چې د الله تعالی له خوا ورته د هغه د ربوبیت په توګه ورکړل شوي لکه: د روز او ښلابښلو حالاتو وښ، نو په زړه کې پرې هېڅ اعتراض نه لري او له الله پرته د بل رب پلټنه هم نه کوي. دویم: په اسلام د دین په حیث داسې راضي وي چې اسلامي دندو او وجایبو ته یې سینه خلاصه وي او له اسلام پرته د بلې لارې په لټه کې نه وي. دریم: پر محمد صلی الله علیه وسلم د رسول په توګه داسې راضي وي چې سینه ورته پراخه وي او پر ټولو هغو څه له شک پرته خوښ وي چې هغه ورته راوړي دي او یوازې هغه څه تعقیبوي چې د هغه د لارښوونې سره سم وي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65116